# روه په ادب او تاریخ کي

د افغانستان او هند په تاريخي کتابو او د پښتو او دري او هندي ژبو په ادبياتو کي دا ډېري پېړۍ د روه، روهيله، روهيل کهنډ اصطلاحات ليدل کيږي، خو تر اوسه پر دې کلماتو او د دوی پر تاريخي سوابقو باندي چا څه تحقيقي پلټنه نه ده کړې.

سراولف کيرو ليکي : د ملتان او ډېره جاتو جتان او بلوڅان او نور خلك د کسي غره (د سليمان غره) ته تر اوسه هم "روه" وايي او د پنجابي ژبي په جنوب غربي لهجو کي "روه" د غره په معنا دئ[1].

ځکه چي روه د غره په مفهوم په پښتو او د افغانستان په تاريخ کي لرغوني سوابق لري، نو بايد سړی داسي وويلای سي چي دا کلمه د غزنويانو له عصره د پښتنو د سياسي او کلتوري قدرته سره يو ځای د هند په ژبو ور ننه وتلې ده، چي منسوب يې "روهيله" او د دوی هستوګنځای ته يې "روهل کهنډ" وايه.

په پښتو کي د "روه" کلمه کټ مټ لکه افغانستان يا پښتونخوا يادېدله، او پښتنخو خپل ټاټوبی "روه" هم بللی دئ.

خوشحال خان خټك د پښتو نر او جنګره شاعر (۱۰۲۲ - ۱۱۰۰ ق) په خپلو فارسي اشعارو کي د روهي تخلص لري چي روه ته منسوبه کلمه ده خو دی کله کله د روهي پر ځای "کوهي" هم راوړي او داسي ښکاري چي روهي او کوهي يوه معنا لري، "غرنی يا غرزی"، لکه :

زلـــعل شـــــــکرين او نباتی
به کوهی ميرسد من من بگوئيد

يا :

روی زرد و آه ســــــرد چـــشم تر
عشق کوهی را چنين بيمار کرد

د ځيني فارسي غزلياتو په وروستني بيت کي د ده دغه تخلص "روهي" هم دئ، لکه :

روهی و جور مهوشان، در دو بلای عاشقی
لـــــــــذت درد يافــــــته، ياد دوا نميــــکند

يا :

چو روهی در حديث آيد، نبات و شــــکر افشاند
دران دم طوطی خوشگوی و بلبل را چه ياد آرم

د خوشحال خان زوی اشرف خان هجري چي په (۱۰۹۳ق) کال د هند د دکن په بيجاپور کي بندي او له خپله وطنه "روه" څخه ليري اوسېد، وايي:

قاصدان له "روهه" نه راځي مدت شو
ســـــلام باد را رسوي، منت يې تم دئ

کاظم خان شيدا د دغه هجري لمسی (زيږېدلی ۱۱٤۰ هـ) چي له وطنه (روه) په کشمير او رامپور کي ورك و، تل د وطن او يارانو په بېلتانه کي ژاړي، دی خپل نيکه خوشحال خان په داسي ډول د روه د شاعرانو استاد ګڼي :

خان استاد د تمام روه دئ
بل اســـتاد د دې ګروه دئ

شيدا په هندکي د وطن بېلتون ګالي، او هلته چي د روه د غرو د بازانو غوتې، او د زرکو نارې ور پيادېږي، نو داسي وايي :

په زړه مي ګرزي د غرونو څوکي
حملې د بازو د زرکـــــو کــــوکي
ووايه ... کـــا، د روه نســــيمه !
ګـــــيرامنـــګلي ، زېبا مـــشوکي

شيدا لطيفه طبع او خلاق فکر لري، د ده پښتو شعرونه خواږه او د تخيله ډك او خورا ښکلي دي، مګر افسوس چي هنديان د ده په ژبه نه پوهېږي، او د ده د شعر له نزاکتونو او ښکلاوو څخه خوند نه مومي، نو دی د روه د سخندانو ياد داسي کوي :

شيدا ورســتوه رنګين اشعار له هنده
ستا له رای سره آشنا د روه ياران دي

شيدا د روه ساده افغان په هندکي د هغه ځای د خرامانو دلبرانو په تماشاکي زړه بايللی دئ او خپله نارسايي داسي ښيي :

په هندي ادا يې وکـــړې په ما چاري
زه شيدا په زړه ساده د روه افغان يم

د روهي تخلص يوازي خوشحال خان نه و غوره کړی، په (۱۱۵۲) کال يوه سيد جعفر نومي سړي هم ځان روهي باله او يوکتاب يې د تدقيق التحقيق په نامه وکيښ چي ما په کابل کي ليدلی دئ.

په دې ډول په پښتنوکي د روه کلمه د پښتونخوا، افغانستان په معنی مستعمله وه[۲] او هم له دې ځايه له پښتنو سره هند ته ولاړه او د هند په ژبو ورګډه سوه چي دا کلمه ډېر لرغونی تاريخ لري، او زه يې لاندي ليکم :

په اوستاکي :

د اوستاکتاب د بخدي (بلغ) لرغونی لارښوونکی زر تشتره (زردشت) ته د (۱۲۰۰ ق. م) په شاوخواکي منسوب دئ، د دې کتاب په ونديداد برخه کي د اهوره مزد، په حکم د مځکي د شپاړسو سيمو د پيدا کولو کيسه راغلې ده، چي هغه شپاړس سيمي دا دي :

۱. آريانا ويجو = خوارزم يا پامير.
۲. سوغد = سغديانه او ماوراء النهر.
۳. مورو = مرو.
٤. بخدي = باختر يا بلخ.
٥. نيسايه = ښايي چي نسا وي.
٦. هره ايوه = هرات.
۷. وای کرته = کابل.
۸. اروه = روه.
۹. خننته؟

۱۰. هره ویتي = ده هراوت (ارغنداو).
۱۱. هیتومنت = هلمند.
۱۲. راغه؟ ښایي چي د بدخشان راغ وي.
۱۳. کحزه؟ ښایي چي کروخ وي.
۱٤. ورنه؟ ښایي چي وانان وي.
۱۵. هپته هندو = هند شمالي.
۱٦. رنګه؟ ښایي چي د سیر دریا سرچینه وي(۳).

که څه د دغو سیمو په ټاکنه کي د محققانو اختلاف دئ، خو اکثر پوهان وایي چي سوغده دغه ماوراء النهر، مورو مرو او بخدي بلخ او هره ایوه هرات، او وای کرته کابل، او هره ویتي ارغنداو یا ده هراوت، او هیتو منته د هلمند سیمه ده.

دا اتمي سیموي اروه URVA په ټاکنه کي منلي خبره نسته، خو ځینو دغه سیمه د لرفرات سیمه ګڼلې ده، مګر اوستایي مځکي چي دمخه ذکر سوې ټولي هغه سیمي دي چي په اوسني افغانستان یا شاوخوا کي پرتې دي، جغرافي تسلسل لري، نو اروه چي کوم ځای ذکر سوې ده، باید چي د هرات او هلمند او کابل او د هند تر منځ واقع وي، چي د روه سره پوره سمون لري او په وروستنیو کتابو کي چي د روه کوم تعریف او ټاکنه سته هغه د اوستا له اروه سره ښه برابرېږي، نو ځکه ویلای سو چي د اوستا اروه دغه وروستنۍ روه ده.

روه د پاڼي نې په اتو ویناوو کي :

ما د روه خورا لرغونی یاد د تاریخ په کتابو کي د پاڼي نې Panini په اتو ویناوو Ashtadhyayi کي موندلی دئ(٤)، دغه پوهاند او د ګرامر لیکوال د سنسکریت د نامه موجد دئ چي د (۳۵۰ ق. م) په شاوخوا کي اوسېدی، او پخپلو کتابو کي جغرافي ښه معلومات هم لیکي. پاڼي نې یوه مملکت، یا یوه فرهنګي واحد ته جنه پده Janapada وایي او د دغه ځای اوسېدونکي سجنه پداه بولي(۵)، دی څلور جنه پده داسي یادوي :

۱. ګندهاره Gandahara له تکشه شیلا (تکسیلا) څخه د کونړ تر روده.
۲. کپیشه Kapisa اوسنۍ کاپیسا د کابل شمالي سیمه.
۳. با لهیکه Balhika بلخ د هندوکش شمالي سیمي.
٤. کمبوجه Kamboja(٦) د آمو سرچینې او پامیر(۷).

د دغو سیمو په بیان کي پاڼي نې وایي : چي کپیشه له کونړه تر هندوکشه مځکي دي او غر د روهیتا ګیري Rohita-Giri په نامه دغه سیمه له با لهیکه څخه بېلوي. دغه غر خو په ښکاره همدغه هندوکش دئ چي تر میلاد څلور پېړۍ دمخه خلکو روهیتا ګیري باله، او د دې نامه تجزیه داسي ده :

روهیته ګیري یعني د روه غر، چي دواړه کلمې تر اوسه هم په پښتو کي سته او هغو لرغونیو نومو ته ډېر نژدې دي او داسي ښکاري : پاڼي نې چي د اباسین د غاړو اوسېدونکی و، د روه کلمه یې پېژندله، او هندوکش یې د روه غر باله.

روه په مهابهارته کي :

مهابهارته Maha-Bharata د هند د لرغونیو ویاړنو (حماسیاتو) مشهورکتاب دئ (د ۱۲۰۰ ق. م حدود) چي په (۸۰۰م) کال بیاس دیوا په سنسکریت منظوم کړ، په دې کتاب کي د هند د دوو لرغونیو کورنیو کورو - پاندو

د جګړو کیسې راغلي دي.

په دغه لرغوني کتاب کې چې د پخوانو آریائیانو د تاریخ یو مهم منبع دئ، د افغانستان د سیمو نوم لوها LOHA دئ چې د دغه روه یو هندی سوی شکل دئ، او هندوانو د R پر ځای L وایه، چې دغسي اوښتني په آریایي ژبو کې سته،

لکه :

| دري | | پښتو |
|---|---|---|
| دیوار | = | دېوال |
| راه | = | لار |
| ګلشاه | = | غرشاه (نورستانی ګل) |

د مهابهارته په ۲٦ سبها کې د لوها ذکر سوی دئ، نو دغه ځای ټولو محققانو دغه افغانستان بللی دئ[۸]، چې مختلف تلفظونه یې روهي - روها - لوها وو[۹].

روه د شي، فاهیان په سفرنامه کې :

دا د چین بودایي راهب په (۳۹۹م) کال د دیني کتابو د ټولوني له پاره له چانګان څخه را رهي سو، تی، تی، تی ځورلس کاله وروسته په (٤١٤م) کال بیرته نانکن ته ورسېدی او ډېر بودایي کتابونه یې چیني ژبې ته واړول او خپله سفرنامه یې هم وکښله، د عمر پر ۸٦ کال مړ سو.

فاهیان له کاشغره د پاس اباسین سیمو ته راغی او بیا یې د ګندهارا، پېښور، بنون او جلال آباد معبدونه وکتل.

په دغو سیمو کې چې فاهیان لیدلي دي، دي سو - هو - تو (سوات)، ګندهاره او چو - چا - شي - لو (تکسیلا)، فو - لو - شا (پېښور)، هي - لو (هده)، نا - کي (ننګرهار) یادوي او د ننګرهار او پو - نه (بنون) تر منځ سیمه لو - یی Lo-I بولي[۱۰].

جنرال کننګهم د لو - یي د موقعیت په ټاکنه کې داسي وايي : د اباسین غرب ته که سړی درې ورځې سفر وکي، نو به پو - نه ته ورسېږي، دغه چې (بنو) دئ.

فاهیان د کورمي د رود په لوړه سیمه کې یو بل ولایت د Lo-I یعني ROH په نامه هم یادوي، چې دغه ولایت د هیون تسنګ په وخت کې (٦۰۰) میله ګرداګرد درلود، او باید چې د کورمي او ګوملې سیمه دواړې پکښې شاملې وي.

فاهیان وايي چې لو - یي له واورین غر (سپین غره) څخه شروکېږي او د جنوب پر لور تر سیوستانه رسېږي، د غزني سیمي تر کندهاره او د شرق پر خوا تر دریای سند پوري نیسي[۱۱].

په دې ډول وینو چې د فاهیان د سفرنامې لو - یي د هند لهجو د لوها - روها - روهي سره برابرېږي، چې جغرافي موقعیت یې هم دغه (روه) دئ.

دا هم باید ووایو چې د افغانستان د کوشاني پاچا هوویشکا پر مسکوکاتو باندي د (۱۷۰م) کال په شاوخوا کې په یوناني مات خط لوه LOH کښلې ده[۱۲]، که دغه کلمه د سکې وهلو ځای وبولو نو به دغه روه وي، چې فاهیان هم لو - یي کښلی دئ، او ښایي دغه کوشانی لوه (= روه) د کوهسار رب النوع وي، ځکه چې کوشانیانو دغسي ارباب انواع لکه اوبه، باد، لمر او نور پر خپلو سکو باندي کښل.

فاهیان چیني زایر خپل لو - یي د غزني او دریای سند تر منځ ښيي، تر ده وروسته یو بل چیني زیارت

کوونکی چي هیون تسنګ نومیږي، د تکسلا څخه تر اباسین را اوړي، دی د غزني او بنو تر منځ سیمي او - پو - کین O-PO-KIEN بولي[۱۳]، چي پوهانو دغه نوم د اوه ګان = افغان سره تطبیق کړی دئ. هیون تسنګ وایي چي د دغه ځای خلك هندي نه وایي، مګر ژبه یې له هندي سره شباهت لري، نو ځکه د کننګهم په قول دغه ژبه پښتو ده[۱٤].

ځکه چي د هیون تسنګ او - پو - کین کټ مټ په هغه ځای کي دئ چي فاهیان تر ده دمخه لو - یي بللی دئ، او هم په هندي نورو منابعو کي دغه سیمه لوها - روهیتا - روهي بللې سوې ده، نو به ضرور دغه نومونه ټوله د (روه) په ریښه پوري مښلي.

ما دمخه د ۱۳٤۸ ش کال د سرطان په آریانا مجله (۳ ګڼه، ۲۷ کال د کابل چاپ) کي کښلي وه، چي د افغان نوم د شیراز د نقش رستم په اشکاني پهلوي (پارتي) ډبرلیك کي په (۲۷۰م) کال د ابګان ABGAN په ډول لیك سوی دئ[۱۵].

تر دې وروسته د هند منجم او شاعر ورهه مي هیره Varaha-Mihira چي د (۵۰۵م) کال په شاوخوا کي خپل کتاب بهریته سمهیته Bhrita-Sanhita کښلی دئ، دی د افغان نوم اوه ـ ګاڼه Avagana لیکي (۱۱ -٦۱ او ۱٦ -۳۱ بیتونه).

له دغو ټولو سندونو څخه ښکاري چي د افغان نوم په همدغه سیمه کي د چیني زایرانو تر راتګ لا دمخه مشهور و، او د لمر لوېدو خوا ته پارسیانو او د لمر ختو لوري ته هندوانو دوی پېژندل، تر څو چي په اسلامي عصر کي یوه جوزجاني لیکوال، خپل جغرافي کتاب حدودالعالم په (۳۷۱ ق = ۹۸۲م) کال وکیښ، دی هم په دې کتاب کي د افغان نوم څو واره راوړي، او بیا یې نور مورخان، لکه : العتبي، بیهقي، بیروني، منهاج سراج، ابن اثیر، فخر مدبر، حمدالله مستوفي او د تېموریانو د دورې مورخان، لکه : سیفي هروي، اسفزاري، د روضات الجنات مؤلف، میر خواند، خواند میر، فرشته او نور د قبایل افغان = اوغان = اوغانیان په نامه په واور وارو ذکر کوي.

افغانستان او روه :

دغه سیمه چي روه بلله کېده، په اسلامي متوسطه زمانه کي د افغانستان په نامه ځکه مشهوره سوه چي د افغانانو سیمه او استوګن ځای و.

د افغانستان نوم د هندوستان په کتابو کي دا (٦۰۰) کاله لیکل کیږي، ضیا برنند هند یو مورخ وایي : د سلطان محمد تغلق په پاچهي کي یو افغان ملك شاهو لودي په (۷۳۵ ق کال = ۱۳۳٤م) د ملتان حکمران ملك بهزاد یې مړ کی او تر هغه وروسته "شاهو از بلغاك دست بداشت و توبه کرد و ملتانرا ترك داد و با افغانان خود در افغانستان رفت"[۱٦].

په همدغو وختو کي چي په هند او ملتان کي د افغانستان نوم مشهور سوی و، په غربي خواوو کي هم دغه نوم پېژاند، مثلاً سیفي هروي مورخ د (۷۲۰ق) په شاوخوا کي دغه نوم د هغو سیمو له پاره استعمالوي کومي چي له کندهار تر تیراهه بیا تر اباسین پوري دي[۱۷].

نو ښایي چي سړی دې نتیجې ته ورسیږي، چي د مملکت په شرقي څنډه او هند کي د روه، روهي، روهیله نومونه مشهور وو، او په غربي خواوو کي یې دغه سیمي افغانستان باله.

په لسمه هجري پېړۍ کي چي بابر د خپلي پاچهۍ مرکز له کابله ډهلي ته ولېږداوه (۹۳۲ق) نو دی پخپل تزك کي هم د افغانستان کلمه پر هغو سیمو باندي اطلاقوي، کومي چي له کابل او غزني څخه تر اباسین پوري پرتې دي او تر ده وروسته محمدقاسم فرشته په (۱۰۱۵ ق ۱٦۰٦ م) کي د روه حدود داسي ټاکي :

"روه عبارتست ازکوهستان مخصوص که باعتبار طول از سواد بجور[۱۸] است تا قصبهٔ سوي[۱۹] که از توابع بکر است، و باعتبار عرض از حسن ابدال[۲۰] تاکابل وکندهار در حدود این کوهستان واقع شده"[۲۱].

اوس دلته د روه حدود داسي ټاکلای سوای : له کابله د ماریګلې ترکوټله بیا له کندهاره د بولان درې تر آخره پوري چي سيوی ده[۲۲].

لمن لیکونه :

۱. پټانان (انګرېزي) ص ٤۳۹ د لندن چاپ ۱۹۵۸م.
۲. په نونسم قرن کي چي کله پرنګیانو د پښتو ادب په راټولونه پیل وکی، نو يې د پښتو د نظم او نثر د منتخباتو کتابونه د افغان - روه - پښتونخوا په نامه وکښل، او داسي ښکاري چي دغه درې سره نومونه مشهور و : لومړی : ګلشن روه (د پښتو د نظم او نثر منتخبه مجموعه)، د راورټي تالیف چي د بمبيي د دریم لښکر کپتان و، د هرتفرد چاپ ۱۸٦۰م. دوهم : کلید افغاني (هغسي مجموعه) د پادري هیوز تالیف د لاهور چاپ ۱۸۹۳م. دریم : د پښتونخوا د شعر هار او بهار، د ج. دار مستېټر فرانسوي پوهاند تالیف، د پاریس چاپ ۱۸۸۹م.
۳. اوستا - وندیداد ۱/۱۰ ص ٦۹.
٤. دغه کتاب د ژبو د علمي تحلیل لرغونی کتاب دئ، چي ۸ ویناوي او ۲۹۵۵ ستراوي لري او له دغو څخه فقط ۱٤ ستراوي الحاقي دي، نوري ګرده اصيلي دي.
٥. ٥ وینا، ج ۳ سترا ۸٥.
٦. ٤ وینا، ج ۱ سترا ۱۷٥.
۷. هندوستان د پاڼي نې په خوله ص ٤۸ - ٤۹ د لکهنو د پوهنتون چاپ ۱۹٥۳م، د اشتادهیايي، ص ٤۸ په حواله.
۸. د لرغوني هند جغرافي قاموس (انګلیسي) د نندولال تالیف د دهلي دریمه طبعه، ۱۹۷۱م ص ۱۱٥.
۹. دغه کتاب.
۱۰. د فاهیان د سفرنامې انګلیسي ترجمه، هـ. اګیلس Gilless ص ۱٥ د کیمبرج طبع ۱۹۲۳م.
۱۱. د هند لرغونی جغرافیه د الکسندرکننګهم تالیف، ۱۹ مخ، د لندن چاپ ۱۸۷۱م.
۱۲. دکوشانیانو عصر (انګلیسي) د دکتر چتوپادیه تالیف، ص ۱٥٦، دکلکتې طبع ۱۹٦۷م.
۱۳. سي - یو - کې ۲٦٥۱۱ انګلیسي ترجمه.
۱٤. د هند لرغونی جغرافیه، ص ۸۹.
۱٥. د پټهانانو کتاب (انګلیسي) د سراولف کیرو تالیف، ص ۷۹، اوګزارشهای باستان شناسی ٤، ۱۸۱ د شیراز طبع ۱۳۳۸ش.
۱٦. تاریخ فیروزشاهي د ۸٥۸ ق تالیف، ج ۳ ص ٤۸۲ دکلکتې طبع.
۱۷. د سیف بن محمد سیفي هروي تاریخنامهٔ هرات دکلکتې چاپ ۱۹٤۲م.
۱۸. مراد اوسنی سوات او باجوړ دي.

۱۹. اوس سیوۍ د بولان درې په آخر او د سند د وادي په راځرمه خوا کي ده.
۲۰. حسن ابدال : د چچ هزاره سیمي په پای کي ماریګله او راولپنډۍ ته نژدې.
۲۱. تاریخ فرشته ج ۱/۳۰ مخ، بمبیي ۱۸۲۲م.
۲۲. وږمه مجله، ۱۳۵۲ش کال، دریمه او څلورمه ګڼه، ۱ - ۹ مخونه.